محمد انور آخر ۲۰۲۰/۰۳/۲۳

# د حضرت علي جسد د مزار شريف له زيارت ښخه پورته شوی

## او د غوربند سيمې ته راغلی دی

### دوه يمه برخه

*کله چې مرحوم محمد اديب آفندي مزار ښار ته رسيږي او بيا د حضرت علي تش په نوم مريستون ته ورځي، د نوموړي زيارت مسوول کس د خرافاتو او مشرکانه ګروهې په اړه داسې وايي:*

... د هغه ځای متولي زما پام د هغو دېرو پر لور واړاوه چې يوه يې د ګرانيټ وه، لوړوالی يې نيمه ذراع او سور يې د يوې ذراع څلورمه برخه وه، د محراب سره نيږدې يې ځای پرځای کړي وه، اندلسي ډوله اسلامي قنديل وربانديې ځړېدلی و او دوه يمه يې تور رنګه وه چې نوري نرۍ دېرې داسې وربانديې لګول شوي وې لکه په هند کې د اګرې ديوالونه او يا د سوريې په دمشق کې حنفي محراب. متولي وويل:

دا د امام علي د مريستون له داخلي دېرو څخه دي چې له کشف کېدو يې وروسته جوړولو نو دا دېرې ترې پاتې شوې او د تبرک لپاره ساتل شوي دي.

نوموړي دا بې بنسټه او د خندا وړ خبره وکړه چې په هيڅ دروغجن تاريخ کې هم نه ده راغلې او په دې تمه و چې زه يې هم ورسره ومنم، هغه څه چې ده د دې زنديق قوم په ژړونو کې کرلي وو، خو پر ما برياڵی نه شو، نو خپله ماتې او زما ځواکمنتيا يې چې وليده درېيمې دېرې ته يې بوتلم چې د دې افساني بنسټ جوړوي، هغې ته يې زما پام واړاوه، ويې ويل:

کله چې امام علي له نن څخه ۴۵۰ کاله وړاندې دا اجازه ورکړه چې مريستون يې بايد ښکاره شي نو دې دېرې د هغې خوب ريښتينولي ثابته کړه چې په دغه مريستون کې د ننه ښخه شوې وه او د کارګرو د کلنګ په ګوزار درې ټوټې شوې وه، په دې دلالت کوي چې ريښتيا هم يوې اوښې د امام علي جسد[له عراق څخه] دلته راوړی و او بيا خاورو ته سپارل شوی دی.

دا دېره له هغو ډولونو څخه ده چې پر مريستنو باندې نصبيږي، چې يوه ذراع اوږدوالی او نيمه ذراع سور لري، پر هغه دېره په عربي ثلث خط داسې ليکل شوي وو:«دا د علي بن ابوطالب مريستون دی» چې د هغه مهال پر مروج کوفي ليک نه وو ليکل شوي، خو نور څه مې وربانديې ونه لوستلی شول ځکه چې دېره موده وربانديې تېره شوې وه او زياتره توري يې وران شوي وو.

[د زيارت] له مسوول کس مې پوښتنه وکړه دا مبارک مريستون څه وخت وموندل شو؟ نو هغه خوندوره افسانه يې تر پايه راته وويله، شيخ [د زيارت متولي] يو او بل لوري ته کوږ شو، خپله شاوخوا يې وکتله او په ټيټ غږ يې د راويانو لړۍ دسې بيان کړه:

دا د دغه مزار رضي الله عنه ورحمه د شيخ له کراماتو څخه و، پنځه سوه کاله وړاندې نوموړی شيخ په دې سيمه کې اوسېده چې په پرهېزګاری، اصلاح، تقوا، کراماتو او ريښتينو خوبونو هم مشهور و چې په کشفياتو او د غيبو د علم په درلودلو هم وپيژندل شو نو يوه شپه يې امام علي په خوب کې وليد چې ورته ويې ويل:

«زه اجازه درکوم چې په پلاني ځای[خواجه خيران کلي] کې زما مريستون خلکو ته وروپيژنبې کې زما مريستون خلکو ته وروښيې تر څو د هغه چا ارمان پوره کړم چې زما تر څنګ اوسيږي او د محمد (صلی الله عليه وسلم) دين پيروانو ته شفا ورکړم چې غږ راته وکړي او د هغو لپاره زما غضب بس دی چې زما د ازارولو هڅه وکړي.»

هغه خوب يې په يوه شپه کې درې ځله وليد چې سهار شو نو شيخ د هغه وخت سلطان حسين ميرزا چې د ايران پاچا و ولاړ او دا خوب يې ورته وويلو، هغه دا خبره ومنله ويې ويل:«هو ته ريښتيا وايې، ما ته هم ستا په څېر په خوب


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

کې امر شوی دی چې ستا خوب رښتیا وبولم.» بیا [سلطان حسین میرزا] له خپلو لښکرو او د رعیت له ډلې، ډلې سپرو سره د دغې وچې او بې اوبو دښتې زړه ته راغلل، دغه ځای یې وسپاړه چې له لرې ځنډ وروسته مړیستون رابرسېره شو او دا ډېره یې هم ورسره ومونده، هغه مهال خلک او پاچا د دې علوي کرامت له امله په سجده پرېوتل او د جومات د جوړولو لپاره یې د هغه هېواد راټوله کړې ټوله مالیه ولګوله.
کرامات یوازې تر دې حده تم نه شول بلکې د سختو او وژونکو ناروغیو څخه د روغیدلو کرامت هم ښکاره شو چې دا خبر مسافرو د اسلامي چین له لېرې سیمو نېولي د بغداد تر پولو ورسولو، له هغو سیمو به ډلې، ډلې خلک پر سید الاولیا [د ولیانو سردار، حضرت علي کرم الله وجهه] راټولېدل چې بېرته به په داسې حال کې تلل چې د شفا نعمت به ورکړل شوی و.
هغه کسان چې د روغتیا غوښتونکي وي د پسرلي په موسم کې دلته راځي چې د بدمرغیو موسم بلل کیږي، ځکه چې دا ډول [ناروغ] کسان په دې دښته کې په ډېر شمېر کې راټولیږي چې فکر به کوی د سروو ونو سمندر په دې مبارک موسم کې څپې وهي، دا خلک د مړیستانه تر څنګ ځلوبښت شپې پراته وي چې عذرونه، دعاګانې او زارۍ کوي، نو د دوی د ښه نیت په بدل کې روغتیا او سلامتي ده چې بېرته خپلې کورنۍ ته روغ رمټ وردرومي.
د علوي حضور متولي دا ټولې حیرانوونکي خبرې په دومره عاجزۍ راته کولې چې لېمه به یې هم ورسره پټ کړل، تا به وې چې د خپلو یادونو د ځګونو تر منځ د ایمان له امله اوبه کیږي.
اوس دا باور پر عقلونو دومره حاکم دی چې که څوک انکار ترې وکړي نو په کفر به تورن شي او په سخت مرګ به ووژل شي.
که چېرې دغې عامه نظریې تېر ایستلي او بیا پورته شي چې یو داسې ړوند وموميې چې روغ شوی وي نو قسم پر خدای چې یو کس به څوک درته په ګوته نه کړي، ځکه نوموړي یوازې د خپلې ګروهې (عقیدې) له امله تشې هوایي خبرې کولې تر څو زما په څېر شکمن کسان خپلې لارې ته وبولي!.
که د هغو پنځو ړندو کسانو په اړه دې پلټنه وکړه چې راته وویل شول چې د روضې تر څنګ یې پوره یو کال تېر کړی و او بیا روغ شول، نو داسې ګومان دربادې کیږي چې بلا به دربندې نازله شي او ړوند به شې، پخوا له دې چې ټول والیان به ستا د ګمراهۍ له امله درڅخه خپه شي.
ما له هغه متولي پوښتنه وکړه چې هغه پنځه روغ شوي کسان چېرې دي؟ نو هغې په ټول ایمان قسم وکړ ترڅو خپلې خبرې ریښتیا ثابتې کړي او زما د شک له امله یې رنګ سور شو، ویې وویل:
کاشکې ته دلته وای او په خپلو سترګو دې لیدلي وای، خو اوس ټول خپلو کورنیو ته تللي دي چې په خپلو نذرونو عمل وکړي.
ما ورته وویل:
خو ما د مزار د اوسېدونکو څخه هیڅ یو داسې ناروغ ونه لید چې ښه شوی وي، په داسې حال کې چې دوی د زیږېدو له لومړۍ ورځې د مبارکې روضې ترڅنګ اوسیږي چې د دوی شمېر د هغو ټولو په بلا اخته کسانو څخه زیات دی چې دلته له نورو سیمو راځي.
شیخ تاو راتاو شو ویې ویل:
دا بیا جلا خبره ده او هغه دا چې زیارت یوازې پر هغو کسانو الهي رڼاګانې شیندي چې له لېرې، لېرې سیمو راځي او په دروازه کې یې پرېوځي چې د سفرونو ستړي او کړاوونه یې ګاللي وي.
په داسې حال کې چې د متولي ارامي په غوسه بدلېدله ومې ویل:
له ګاونډي سره ښېګڼه خو هغه څه دي چې زموږ دین یې ښوونه کړې ده، بیا علي رضي الله عنه به تر هغې په ارامه خوب نه کولو چې ګاونډی به یې په کړاو کې و، نو بیا به څرنګه په هغه سیمه کې چې د هغه مبارک په نوم یادیږي د دومره ډېرو ناروغیو د خپرېدو په اړه راضي شي؟
دا خبره مې وکړه او بیا مې پر شیخ باندې د مهربانۍ له مخې یو څه د مال لورېینه وکړه ځکه چې خواشینی نه شي او د بې مانا خبرو د اورېدو له امله په داسې حال کې ترې روان شوم چې د زیارت واجبات یې راته ښودل ویل یې:
باید زیارت کوونکی روضې ته په داسې حال کې ننوځي چې اړخونه یې ښکل کړي او بیا له ښي لوري طواف پیل کړي چې د زاریو له دروازې سره به ودریږي، بیا به د هغې کولپونه (قفلونه) په لاس کې ونیسي او وروسته له دې چې درې ځله یې وشرنګوي بیا به یې ښکل کړي په داسې حال کې چې ټینګ به یې نیولي وي دعا به وکړي او د فاتحې سورت به ولولي، بیا به په شا روان شي او مړیستانه ته به شا نه وراړوي تر هغې چې دروازې ته ورسیږي.
بې چاره مسلمانانو چې کله الله تعالَی هېر کړ نو له دوی څخه یې خپل ځانونه هم هېر کړل او اسلامي ډیموکراسي یې هم ترې هېره کړه چې په ازاد کوچې او ډیموکراتو عربو باندې هم عجمي سیوری کیناست، داسې چې پر دوی ټولو باندې لعنت وایي او ورسره یې ډېرو ته د عاجزۍ او عبادت په لور هم ورسول، دوی یې بت پرستۍ ته نیږدې کړل چې اوس د هغوی له نومه وېریږي، له نامالومو مړیستونو څخه یې بتان ورته جوړ کړي دي، داسې عبادت ورته کوي چې هندوانو او چینایانو هم خپلو بتانو ته دومره عبادت نه دی کړی، همداسې لکه چې دوی الله ته بت وسیله کوي په هغه ډول دوی د مړو کسانو مړیستونونه خدای ته وسیله کوي او ډېرې یې څټې.

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پاژوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ګرانه لوستونکیه! که چېرې دې هغه څه ولیدل چې ما لیدلي وو چې د زیارت پردې یې نیولې وې، زارۍ یې ورته کولې او د هغې اړخونه یې په داسې حال کې ښکلول چې له سترګو یې د اوښکو سېلاوونه روان وو او هغو کسانو چې له یو بل سره یې د روضې د ډبرو او دېوالونو په ښکلو او ښکلولو کې سیالۍ کولې او یا دې هغه له فساد ډک لیکل لوستلي وای چې د زیارت پر دېوالونو لیکل شوي وو چې علي ته یې بشپړه سپېڅلتیا وربښلې وه نو قسم دی چې ته به ووایې چې د یوې بت پالې ټولنې ترمنځ ولاړ یې چې له الله تعالَی سره یې بل خدای هم شریک ګرځولی دی.

اوس به دا خلک له خپلې هغې ګروهې سره د دې مړیستانه تر څنګ پرېږدو چې ورباندې حاکمه ده او له روضې په بهر باغونو کې یې پرېږدو چې چای وڅښي.

موږ به هغه حقایق بیان کړو چې د هغو کسانو په اړه مو مالوماتو ته ورسوي چې دا کار یې ترسره کړی دی، هغه اصلي کسان چې د دوی بدۍ پټې کړی شوي دي که خلک ورباندې پوه شي نو په ډبرو به یې وولي.

دې خلکو له دې مړیستانه څخه یوازې سیاسي موخه درلودله، چې د لومړي ځل لپاره د سلطان حسین میرزا لخوا، پنځه سوه پنځوس کاله پخوا د ایران او خراسان پاچا و د دې کار امر وکړ.

سلطان حسین میرزا له ترکانو سره تل په شخړه کې و چې پر کربلا او نجف باندې یې هم واکمني درلوده، هغه ځای ته به د بخارا او خراسان له لېرې سیمو څخه د زیارت په موخه شیعه ګان ورتلل، سره له دې چې د ترکانو له خوا به د مذهبي کرکې له امله ربړول کېدل او له بل لوري به عربو او د هغې سیمې کوچیانو هم دښمني ورسره کوله، نو ځکه یې د دې مړیستون افسانه د هغه شیخ په مرسته جوړه کړه چې د خلکو ترمنځ په پرهېزګارۍ او د غیبو په علم مشهور شوی و، تر څو دا دیني مراسم یې په خپل هېواد کې د ننه ترسره شي[تر څو په دې وسیله د نجف او کربلا له زیارتونو څخه خلک بلخ ته راوګرځوي. ژ.]

شیخ او پاچا [حسین میرزا] خپله دا لوبه دومره په مهارت تر سره کړه چې پر ساده مسلمانانو یې ومنله.

څرنګه به یې رښتیا نه بلله په داسې حال کې چې د شګو ترمنځ یې په وچه دښته کې داسې څه وموندل، چې د شېخ په خوله ویل شوي وو او پاچا یې هم تصدیق کړی و او بیا داسې معجزې هم ترې خورې شوې چې ناروغان ورباندې ښه شول او ړانده ورباندې سترګور شول.

ستا هېښتیا به هله له منځه ولاړه شي چې هغه داستان درپه یاد شي چې د دې سفر په پیل کې مې د غوربند په دره کې درته ویلی و، هغه شیخان چې نه پاچا مرسته ورسره کوله او نه یې حکومت ملاتړ کاوه خو پردې سربېره یې وکولی شول چې د تمدن په دې شلمه پېړۍ کې د کابل ښار له لسو ورځو څخه په کمه موده کې له اوسېدونکو څخه خالي کړي او د څلوېښت زره کسانو عقلونه له کاره وغورځوي تر څو په ساړه ژمي کې د دوی جوړ کړي زیارت ته ځانونه ورسوي.

په هغه زمانه کې چې کله دا افسانه جوړه شوه او هغه زینتي ډبرې هم ورسره وموندل شوې چې په لومړۍ اسلامي پېړۍ کې مسلمانانو نه پېژندلي او هغه لیک هم ورباندې شوی وو نو دوی هم د خپل هېواد د ګټې لپاره چوپ پاتې شول چې له لېرې، لېرې سیمو څخه خلک ورته رامات شول، نه یوازې دا بلکې د دې سوداګرۍ ملاتړ یې هم وکړ چې راتلونکي نسلونه یې هر کال څلوېښت ورځې پخې مېوې راټولوي او بازارونه یې په انساني ځناورو باندې ډک شي چې د فسادونو درو ته راښوییږي او د مړیستنو بنده ګان ترې جوړ شي چې د ګونګو ډبرو څخه داسې غوښتنې کوي که دوی یې د ترلاسه کولو لپاره لږه هڅه کړې وای نو ورته رسېدلي به وو او د نړۍ د ژوندیو ملتونو په کتار کې به درېدلي وای.

که د دې سفرونو د سختیو لسمه برخه شتمني یې خیریه بنسټونو ته ورکړې وای نو داسې روغتونونه به یې پرې جوړ کړي وای چې له لویدیز سره به یې سیالي کولی،(څنګه به داسې نه کیدای، په داسې حال کې چې دوی په پخوا زمانو کې د دې شاهدان وو، هغه مهال چې د ابن سینا او فارابي د طب او کیمیا په ډګر کې داسې لاربنوونې وکړې چې اوس هم د پېرنګیانو لپاره د دې پوهې بنسټونه بلل کیږي.)

لکه چې د دغې مړیستنو ودانۍ د پاچا [حسین میرزا] له خوا جوړې شوې دي د ناروغیو د لا خپرېدو او ډېریدو سبب کیږي، داسې چې اوس مهال هم د سېل [T.B] ناروغان د پمنو کسانو تر څنګ ناست وي چې بیا دواړه د جذام له ناروغانو سره یو ځای اوسیږي، یو ځای ډوډۍ خوري او د خپلې سینې زهري مواد [میکروبونه] نورو ته انتقالوي.

د مزار نوم به داسې ونه اوري چې بې له (شریف) څخه واخیستل شوي خو[په اصل کې] د دومره ناروغیو ځاله ده چې سړی وېروي او داسې هیله کوي چې کاشکې یوه ګړۍ وړاندې ترې تللی وای.

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ